# خوشحال او ارواپوهنه

**لیکوال: پوهیالی سراج احمد ژواک**

**لنډیز**

اروا‌پوهنه د انسان د سلوك، کردار او کړو وړو علم دی، په دې علم کې تر ډېره بریده د محیطي پدیدو پر وړاندې د انسان د بېلابېلو غبرګونونو، چال چلندونو او جوړجاړیو څخه بحث کېږي. د دې علم پوهان د انسان د شخصیت جوړونکو لاملونو له کبله په دریو ډلو وېشل شوي دي، یوه ډله یې د انسان د شخصیت په جوړېدو کې ارثي لاملونه تر محیطي هغوی ډېر اغېزمن ګڼي، بله هغه یې بیا پر عکس محیطي پر ارثي هغوی موثر بولي؛ درېیمه هغه یې بیا د اعتدال لاره نیسي او په دې برخه کې د دواړو رول ته په مساوي نظر ګوري. د پښتو ادب پلار خوشحال خان خټك هم تر ډېره بریده د دې ډلې کسانو له جملې څخه دی. هغه که څه هم له اره په اروا‌پوهنه کې مسلکي زده کړې نه وې کړې، خو بیا یې هم لکه څرنګه چې په نورو بېلابېلو علومو کې معلومات درلودل، دغه راز یې د اروا‌پوهنې ډګر هم تر خپل پوهنیز پوښښ لاندې راوستلی ؤ او په دې برخه کې یې شعري کلیات او د دستارنامې په نوم شهکار منثور اثر د هغه له ګڼو اروا‌پوهنیزو اندونو څخه مالامال دي.

**بنسټیز ویونه: خوشحال خان، شخصیت، وراثت، چاپیریال او اروا‌پوهنه.**

**سریزه**

د پښتو ادب پلار خوشحال خان خټك لکه څرنګه چې د تصوف، فلسفې، سیاست،

طب، هنر، ادبياتو، ټولنپوهنې او د ګڼو نورو داسې علومو په وړې ډګر کې د خپل فکر نيلی ځغلولی دی، دغه راز يې د ارواپوهنې قلمرو هم تر خپل پوهنيز پوښښ لاندې راوستلی دی. هغه نه يوازې د خپل تلپاتې شعر پر مټ خپل اروا پوهنيز اندونه تر خپلو مينه والو رسولي دي؛ بلکې د «دستارنامې» په نامه يې په يوه منثور شهکار اثر کې خپل دا ډول اندونه ښه را جوت کړي دي؛ چې موږ به يې ګام په ګام د هغه د دواړه ډوله منظومو او منثورو اثارو څخه د هغوی د اروا پوهنيزې شننې سره يو ځای ستاسو ښاغلو لوستونکو مخې ته کېږدو.

**اروا پوهنه**

اروا پوهنه، د روح څېړنه نده، د ذهن او کړو وړو څېړنه ده. ځکه د روح څېړنه د انسان له وسې وتلې خبره ده؛ الله سبحانه وتعالی هم په خپل عظيم الشان کلام کې فرمايلي: «ويسلونك عن الروح قل الروح من امر ربی و ما اوتيتم من العلم الا قليلا» (سورت بني اسرايل: ۸۵ ايت)؛ يعنې اې نبي (ص) دوی له تا څخه د روح په باره کې پوښتنه کوي تاسې ورته ووايا ست چې روح د خدای (ج) يو امر دی، تاسې ته يې په اړه علم نه دی درکړل شوی او که درکړل شوی هم وي، هغه لږ علم دی.

اروا پوهنه د انسان د سلوك، رفتار، چال چلند، او ذهني عمليو علمي او تحليلي مطالعه ده. اروا پوهنه د ځان پېژندنې، بل پېژندنې او له ټولنې او چاپېريال سره د جوړجاړي يوه داسې مهمه کيلي ده، چې له موږ سره د خپلو فعاليتونو په سمون، د ناخوښو او ناسمو غبرګونونو په بدلون او د يوه سالم او متوازن شخصيت په وده کې مرسته کوي.

د دغې نوې پوهنې په رامنځته کولو او هغو ته په پراختيا ورکولو کې ډېرو پوهانو هلې ځلې کړې دي، چې تر ټولو لومړی په کې الماني فيزيولوژېست «ويلهم وونټ» دی، چې په ۱۸۷۹م کال کې يې د «لايپزيك» په پوهنتون کې د اروا پوهنې لومړنی ازمويښتون (لابراتوار) را منځته کړ او په دې سره يې د دغه علم لومړني بنسټونه په پښو ودرول. تر ده وروسته د نړۍ په ګوټ ګوټ کې د اروا پوهنې لپاره نورو پوهانو زيار وايست او په دغه برخه کې يې زيات شمېر اثار او افکار را منځته کړل.

**خوشحال خان خټك**

خوشحال خان د شهباز خان زوی، د يحيی خان لمسی او د اکوړي کړوسی دی. د ۱۰۲۲ هجري سپوږميز کال د ربيع الثاني په مياشت کې د خټکو د اکوړې په سرای کې زېږېدلی دی. نوموړی د خپلې زوکړې، پېژندنې او د نسب د سلسلې په اړه په يوه شعر کې داسې څرګندونې لري:

| | |
|---|---|
| زه خوشحال د شهباز خان يم | چې تور زن يم کان په کان |
| شهباز خان د يحيی خان ؤ | چې بل نه ؤ هسې ځوان |
| يحيی خان د اکوړي ؤ | چې په توره شو سلطان |

د هجرت زر دوه وېشت سن ؤ چې زه راغــلم په جهـــان
(۸: ۱۳۶)

هغه د پښتو ادب ناوې ته د خپل نوښتگر فکر دغه هنري او علمي مرغلرې د غاړې امېل کړې دي: دستارنامه، طب نامه، بازنامه، فراق نامه، سوات نامه، فضل نامه، فالنامه، فرخنامه، بياض، ځنځيرى او د شعرونو د ېوان. چې په دې ټولو اثارو کې يې څه نا څه په هره يوه کې د هغه د اروا پوهنيزو اندونو ځرکونه موندلای شو، خو تر ټولو ډېر هغوی يې د هغه په دستارنامه نومي اثر او د شعرونو په دېوان کې موندل کېږي؛ چې په دې ډول سره يې د هغوی د شننې سره يو ځای ستاسو ښاغلو لوستونکو مخې ته ږدو:

پيل يې د (جان لاك) «۱۷۰۴-۱۶۳۲» د سپينې لوحې د نظريې او د خوشحال خان ختك «۱۰۲۲- ۱۱۰۰» د همداسې يوه نظر له پرتلې څخه کوو. جان لاك وايي: « ذهن د زوکړې په وخت کې لکه کاغذ داسې سپين وي او د هر ډول خصوصيت او تصور څخه خالي وي... دا چې څه ډول بشري ذهن د معنا څښتن گرځي، يوازې تجربه دغه کار ترسره کوي، دا ځکه چې زموږ ټولې پوهنې پر تجربو ولاړې دي، ټولې معانی د احساس يا تفکر په واسطه حاصلېږي. احساسونه په خپله جسماني دي، د هغو ذهني نتيجه ادراك دی، چې د ذهن لومړی قوه ده» ( ۴: ۱۰).

د جان لاك په نظر: «د انسان عقل ارثي نه دی او د زيږېدو پر وخت د ښو او بدو په اړه فطري معلومات، د دوزخ او جنت په اړه خبرتيا نه لرو، بلکې دا ټول معلومات وروسته، دهغو تجربو له امله چې ذهن يې د حواسو له لارې زده کوي تر لاسه کوو... د حسي تجربو تر لاسه کول، د ليدلو، اورېدلو، بويولو، لمس کولو، د هغه کتاب متن دی، چې د ذهن پر تخته له زيږون څخه تر مړينې پورې ليکل کېږي. دا پوهېدل د خاطراتو په څېر په ذهن کې راټولېږي، وروسته په فکر مومي او د عقل په نوم زياتېږي. په دې توگه عقل يوازې د مادي نړۍ غبرگون دی، چې د حواسو له سوريو څخه پر ذهن خپرېږي، ذهن له مادې پرته د بل څه درك نه شي کولی، ځکه دا يوازې ماده ده، چې حس اغېزمنوي، سربېره پر دې خلك نړۍ په بېلابېلو بڼو ويني، دا ځکه چې زموږ حواس که څه هم يوه بڼه لري، خو په بېلا بېلو بڼو کې له نړۍ سره مطابقت لري(۴: ۱۱).

خوشحال خان ختك هم په دې برخه کې جان لاك ته ورته نظر لري، هغه هم په خپل مشهور شهکار اثر دستارنامه کې د اولاد د تربيت تر سرليك لاندې يو ځای کاږي: « د هلك زړه لکه سپين کوره کاغذ هسې دی، هر چې پرې وکښې هغه حروف پرې پرېوځي. چې د اشرارو د صحبت اثر پرې وشي، اشرار شي؛ چې د اخيارو د صحبت اثر پرې وشي، اخيار شي؛ که هر څو په فطرت کښې پاك جوهر زو ولی وي، د بدانو د صحبت په تاثير بد شي. لکه سره زر جعفري باد باني وي، مس ورسره گډ شي، ضايع شي. هر کار چې دی هم په دا

کښې دی، احتیاط کلي بلیغه مبالغه بویه» ( ۲: ۱۰۸- ۱۰۹).

و مو لیدل چې په دې برخه کې د جان لاك او زمونږ او ستاسو د پښتو ادب د پلار خوشحال خان خټك نظر تر ډېره بریده سره ورته دی، دواړه د چاپېریال اغېز د انسان د شخصیت په جوړولو کې موثر ګڼي او حتی دواړه یې د وراثت اغېز د شخصیت په جوړولو کې چورلټ ردوي؛ خو په ځینو ځایونو کې داسې هم شوي چې خوشحال خان بیا د چاپېریال اغېز د انسان د شخصیت په جوړولو کې نه مني او په دې برخه کې وراثت ته په ډېر ارزښت قایل دی؛ چې دا یې د ده د افکارو ترمنځ یو جوت ټکر هم را په ګوته کوي. خوشحال خان وایي:

مور زادي کاڼه هر ګز نه هوښیارېږي
نصیحت په تور زړګي کـله تاثیر کړ

(۳: ۵۱)

او یا:

وفا به هیچرې له کمذاته نه مـــومې
که همــــه عمر په زړه د ده درومې
ټپوس به باز نه شي زاغ به توتي نه شي
په تربیت یې که بوعلي مـــومـــې

(۳: ۵۲۷)

په ټوله کې ارواپوهان د انسان د شخصیت د جوړونکو لاملونو له کبله په دریو ډلو وېشل شوي دي؛ یو ډله یې د هغه د شخصیت په جوړونه کې ارثي او ذاتي لاملونه تر محیطي هغوی ډېراغېزمن ګڼي او په دې برخه کې د چاپېریال اغېزو ته په ډېر ارزښت قایل نه دي. بله ډله بیا محیطي لاملونه تر ارثي هغوی ډېر په کې موثر بولي؛ لکه بي. اف. سکینر( ۱۹۰۴- ۱۹۹۰) امریکایي ارواپوه چې د افرادو په ذهني، رواني او په ټوله کې د افرادو په شخصیتي جوړښت کې د محیط رول تر ټولو مهم بولي او د دغه مطلب د توضیح لپاره په ځینو ځایونو کې آن له افراط څخه کار اخلي؛ لکه چې وایي:

«انسان په دې دلیل اخلاقي حیوان نه دی، چې بېل ډول ځانګړنې لري؛ بلکې د انسان اخلاقي توب په دې کې دی، چې یو داسې اجتماعي محیط یې جوړ کړی دی، چې هغه نوموړی اړ باسي، چې اخلاقي چلند او سلوك له ځانه وښیي»(۴: ۱۴۳).

سکینر په ټولنه کې د افرادو د چلند او سلوك بدلون د زور او شکنجې له لارې سم نه ګڼي، بلکې د کنټرول او مثبت تقویت پلوي کوي. د سلوك بدلون د مثبت تقویت له مخې یو مشهور فن دی، چې په رواني روغتونونو، زندانونو او ښوونځیو کې د ناوړه او نامطلوبو چلندونو د سمولو او مثبتولو په موخه کارول کېږي. خوشحال خان هم په دې اړه

وايي:

«دسبق هم چې استاد لره ورشي په اول سبق يې وبخښل شي. معلم دې ورسره هنر کا. چې ازار يې نه کا د ده په زړه دې ورسره چلېږي. که هلك عالي فطرت وي. تر اووه کاله پورې به سواد خان شي»(۲: ۱۰۷).

لکه څرنګه چې پورته ذکر شول، چې سکينر د افرادو د چلند په بدلولو کې د زور پلوي نه دی، خو د دې هم طرفداري نه کوي، چې ماشوم دې همداسې خپلې مخې ته پرېښودل شي؛ بلکې نوموړی په دې برخه کې د جدي کنټرول غوښتنه کوي. هغه په دې اړه زياتوي:

« که چېرې يو ماشوم په پام کې ونيسئ، کله چې د خوړو د لاسته راوړلو لپاره شور او لانجه جوړوي، نو که چېرې يې والدين د دغه ماشوم د غوښتنې په مقابل کې تسليم شي. په حقيقت کې د هغه د نامطلوب سلوك تقويه کوي... په دې ترتيب مور، هغه مهال د يوه ماشوم چلند بدلولی شو، چې له هغو سره يې مخکنی چلند يا نامطلوب عمل تاييد نه کړو. په همدې ډول د رواني ناروغانو سره په چلند کې د هغو د ناسمو رفتارونو په نه تقويت سره کولی شو، د هغه په سلوك کې مثبت بدلون ته لاره هوراه کړو»(۴: ۱۴۳).

خوشحال خان هم په دې برخه کې سکينر ته ورته نظر لري، هغه هم د ماشوم په تربيت او روزنه کې د مور او پلار له خوا د هغه د جدي کنټرول غوښتنه کوي او په دې اړه وايي:

«مور پلار دې ورپسې بجد وي. په ايام صبی کښې څو تر بلوغ رسېږي. خوښ دې هم نه ساتي. بلکې د ښه اغوستن دې غندنه ورته کاندي. چې د مردانو په ښه اغوستن څه کار دی؟ دا د زنانو کار دی. د مردانو کمال چې په څه کښې دی. هم هغه هنرونه دې ورته ښايي. سپك خوی، سپك ناستی، پاڅېدل دا دې ورته غندي. خاموشي، کتمان راز، دا دې ورته ښايي. د بدانو، د بدخويو د صحت دې وېزار لري»(۲: ۱۰۸).

په ارواپوهانو کې يوه ډله داسې هم ده، چې هم محيطي او هم ارثي لاملونه د انسان د شخصيت په جوړلو کې اغېزمن ګڼي. «جيمز دبليو وندر زندن» په خپل کتاب کې چې پارسي ژباړه يې دکتور حمزه کنجي د «روان شناسي رشد» په نوم کړې، د« وراثت يا چاپېريال: کوم يو مهم دی؟» تر سرليك لاندې ليکي چې: «د انسان په وده کې د وراثت رول د چاپېريال د رول په مقابل کې درول، داسې دي لکه چې له چا نه پوښتنه وکړې چې، د خوړو په مالګه کې سديم ډېر ارزښت لري او که کلر؟ ټول پوهېږو چې له دې دواړو څخه د يوه په نه شتون کې مالګه نه رامنځته کېږي، نو د انسان په وده کې هم حالت په همدې ډول دی، هر شخص د وراثت او چاپېريال دواړو محصول دی»(۷: ۵۷).

خوشحال خان خټك هم تر ډېره بريده د انسان شخصيت د وراثت او چاپېريال دواړو محصول ګڼي:

هند کې تور سکاڼ دي له مور او پلاره
پښتـــــانه واړه سره سپین اې یاره
تاثیر که تخم آب وهـــــــوا لري
ته واړه وګڼه له کـــــــــردګاره

(۳: ۴۳۶)

له چاپېریال څخه هم کورنۍ او په ځانګړې توګه مور او پلار د انسان د شخصیت په جوړښت کې ستر نقش لري، تر پلار نه هم مور په دې برخه کې بنسټیز رول لري. په امریکا کې یوې څېړنې چې د شپږو کلونو په ترڅ کې په ۶۹۳ کورنیو تر سره شوې وه څرګنده کړه، چې په سلو کې ۶۶ هغه ماشومان چې عاطفي اختلالات یې لرل، په هغو میندو پورې اړوند وو، چې په هغوی کې به هم دا ډول رواني اختلالات موجود وو. هغه هم په داسې حالت کې، چې بیا په کومو پلرونو کې به دا ډول رواني ستونزې موجودې وې، په ماشومانو کې به یې ۴۷ سلنه دا رنګه رواني اختلالات لیدل کېدل او که چېرې به په دواړو کې وو، نو دا ګراف به بیا ۷۲ سلنې ته پورته کېده (۷: ۱۸۵). نو ځکه خوشحال خان هم تر ډېره د انسان شخصیت د هغه له مور څخه اغېزمن ګڼي.

د هر څیز رجوع و اصل و ته کېږي
په فرزند کې زیات د مور کېږي اثر

(۳: ۷۲۶)

خو جالبه بیا دا ده: چې ډېری ارواپوهان پر دې ټینګار کوي، چې د انسان د رواني او عاطفي بقا چانس په یوازیتوب یا په هغه یو اړخه نړۍ کې چې ده ته ورپاتې ده کم دی، نو بویه چې انسان تر خپلې وسې ټولنیز شي. اتریشي اروپوه آلفرد آدلر په اروپوهنه کې د انساني طبیعت د سمې طرحې د وړاندې کولو په موخه لیکي:« له ټولنې سره د جوړجاړي روحیه، د اروپوهنې ترټولو مهمه دندنه ده»(۴: ۱۵۰). خو د دې سره سره خوشحال خان، چې د انسان د شخصیت په جوړولو کې د چاپېریال اغېزې بې ګټې هم نه بولي؛ خو بیا هم خپلو لوستونکو ته تر ډېره بریده پر دې توصیه کوي، چې له خلکو نه باید ګوښه او یو ډول عارفانه ژوند وکړي او هغه هم په داسې حال کې چې په خپله دی هم تر بل هر چا نه ډېر ټولنیز شخصیت ؤ. په دې برخه کې د هغه ځینو دې ډول توصیو ته تم کېږو:

د نیا نا څیزه ده بې د نیـــا ژوه
دنیا که څیز وای د نادان به نه وه
اهل به نه مومې، نا اهل ډېر دي
له خلکو ګرځه جــــدا په یوه

(۳: ۴۱۴)

او یا:

که نور څه نه وي دا هومره زده کړه
چې زړه دې یو دی، یاري یــوه کړه
څو چې یاری هومــــــــره غمونه
ډېرې یاری له هیچا مه کــــــــړه

(۳: ۴۳۰)

که څه هم په دې برخه کې ځینو مطالعاتو دا هم څرګنده کړې ده چې هغه کسان چې ژوند تر ډېره په انزوا کې تېروي، د عمر په ډېرېدو سره متوسطه روحیه یا تر هغې نه هم لوړه هغه لري او د نورو په پرتله په رواني ناروغیو ډېر نه اخته کېږي.

یوازیتوب یوازې د انزوا په معنا نه دی، حتی کولای شو، په ډېرو خلکو کې هم د یوازیتوب احساس وکړو، څوك چې له یوازیتوب څخه ځورېږي، هغه احساس کوي، چې نه شي کولای د نورو سره معناداره اړیکې ولري او د هغوی په لاس د جوړ شوي، زړه وړونکي نظام څخه په څنډه کې ساتل شوي دي. د اړیکو څرنګوالی د هغوی تر ډېروالي نه ډېر اهمیت لري ( ۷:۳۵۰). خوشحال خان وایي:

که نور څه نه وي دا هومره زده کړه
چې زړه دې یو دی، یاري یوه کــړه
څو چې یاری هومره غمـــــــونه
ډېرې یاری له هیچا مـــه کــــړه

(۳: ۴۳۰)

په اروا پوهنه کې تر ډېره بریده پر دې ډېر ټینګار کېږي، چې انسان باید زړه نا زړه نه شي، هر څه چې وي باید یوې خوا ته هوډ وکړي؛ ځکه ټولو ازمایشونو څرګنده کړې ده، چې تعارض د رفتارونو د اختلالاتو سبب ګرځي، هغه کسان چې زړه نا زړه وي، ډېر امکان لري چې د معدې او اثنی عشر په زخم مبتلا شي؛ خو که چېرې بیا تصمیم ونیسي رنځ او زحمت یې تر هغې له زړه نا زړه حالت څخه ډېر لږ دی (۶: ۴). د موضوع د ښې روښانتیا لپاره د خوشحال خان له لاندې بیت څخه مرسته غواړو:

چې یې سر تر پایه درست په غم کې لبو کړم
را ته وایي اوس خوشال اوسه څه غــم کړې

(۳: ۶۸۰)

د اروا پوهنې د ګڼو بېلابېلو څانګو څخه یوه هغه یې د ښځو اروا پوهنه هم ده، خوشحال خان د اروا پوهنې په دې څانګه کې هم ځانګړې مهارت لري، ښځې یې دې خپلې دې اروا پوهنیزې پوهې له مخې له اره په څلورو ډلو: ګل فامو، نېك فرجامو، دد و دامو او فیل

اندامو وېشلې دي.

ګل فامه هغه ګڼي، چې د نيلوفر ګل غوندې يې تن وي، له وجود نه يې ښه بوی ځي، خوله يې تنګه، سر يې ګرد او نرۍ يې پوزه وي. پلن يې وجود، سرې يې شونډې، واړه هموار يې غاښونه، ګرد ورغوي او اوږدې يې ګوتې وي.

نېك فرجامه هغه يې بيا، غم نه کوي، همېشه تر او تازه وي، په لوبو او سندرو يې زړه خوښېږي، دروغ نه وايي او رښتيا خبره هم په ډېر ناکام سره کوي.

دد و دامه هغه يې بيا، لږه خبره هم ډېره وي، له وجود څخه يې تود بوی ځي، خېټه يې لويه او په خوړلو نه مړېږي، تروو، ترخو او سوندو ته يې زړه کېږي، د کلي ښځې ورته را ټولې وي او هغوی ته خپلې کيسې کوي.

فيل اندامه بيا هغه بولي، چې غټ مخ، پلنې وروځې او وړې سترګې لري؛ سر يې لوی، وېښته يې ځږه او لاسونه او پښې يې غټې وي، تګ يې هم دروند وي او آواز يې هم؛ قهر ډېر کوي او هر چېرته غځېدلې پرته وي (۳: ۶۲۶- ۶۲۷).

په يوه بل ځای کې يې بيا د عمر له لحاظه داسې سره ډلبندي کوي:

ارتينــــې په مثـال ګل دي
ګــل تازه ښه دی خوشحـاله
تر شل کـــاله تازه ګـل دی
بده نه ده تر دېرش کـــاله
چې تر دېرش کـاله زياتېږي
پرېواته يې دي له خيـــاله
چې د سره وېښته يې سپين شي
نور يې څه له خـط او خـاله

که درست ځان زېور زېور کا
سود يې کوم دی له جمـــاله
زوړ چې ښه جمـال ته ګوري
بيا يې ځوان شي له وصـــاله

(۳: ۷۱۲)

استاد اسدالله غضنفر په خپل «جادوګر هنر» نومي اثر کې د خوشحال خان ختك د دې لاندې څو بيتونو په اړه کاږي، چې ما دا څو بيتونه خپلې يوې همکارې ته ورکړل، تر څو د ازادۍ راډيويي مجلې لپاره د ځينو اروا پوهانو سره د دې بيتونو په اړه مرکې وکړي، د مرکې په بهير کې ډېرو اروا پوهانو د دغو بيتونو په اړه څرګنده کړې وه، چې موږ په

ارواپوهنه کې د غم د غلطېدو لپاره تر دې بله قوي نسخه نه لرو (**۵: ۳۱۵**). هغه بيتونه چې د خوشحال خان ختك اروا پوهنيز فکر ترې ښه را جوتېدلی شي، د حسن اختتام په خاطر ستاسو ښاغلو لوستونکو مخې ته ږدو:

غـم په زړه کې بد غليم دی
څو توانېږې خـــواروه يې
يا تېره توره را واخـــــله
خـــو چې وي همواروه يې
يا غمــخور چېرته پيدا کړه
ورته کښــېنه ښـــکاروه يې
يا فــرياد فــرياد کړه
ژاړه تـــار په تـــاروه يې
يا خوشحال غوندې زړه راوړه
ځـــای يې کـــړه انباروه يې

(**۳: ۷۰۸**)

پايله

د پايلې په توګه په ډېر وسوق سره ويلای شو، چې د پښتو ادب پلار خوشحال خان ختك، که څه هم له اره د مسلك له مخې اروا پوه نه ؤ، خو بيا يې هم لکه چې په نورو بېلابېلو علومو او فنونو کې يې هم په خپلو اثارو کې څرګندونې کړې دي، دغه راز يې په اروا پوهنه کې هم خپل اندونه څرګند کړي دي.

اروا پوهنه د انسان د سلوك، رفتار، چال چلند او ذهني عمليو علمي او تحليلي مطالعه ده، چې نېږدې له ټولو علومو سره په يو ډول نه يو ډول نه شلېدونکې اړيکې لري؛ ځکه ټول علوم او فنون دانسان د خدمت لپاره را منځته شوي دي، نو د دې علم پوهنيز قلمرو، چې په ټوله کې حيوان او په ځانګړې توګه انسان يې اره موضوع ده، د ټولو علومو او فنونو سره ګډې پولې جوړوي.

## اخځلیکونه

۱. قرانکریم
**۲.** ختک، خوشحال خان. (۲۰۰۵). **دستارنامه**. د یارمحمد مغموم ختک تحقیق، سمونه او حاشې. پېښور: یونیورستي بُك ایجنسي.
**۳.** ختک، خوشحال خان. (۱۳۸۷). **کلیات**. د عبدالقیوم زاهد، مشوانی، اوډنه، سمون او ویپپانګه. کابل: اسد دانش مطبعه.
**۴.** صفا، مصطفی.(۱۳۹۳). **د اروا پوهنې لنډ تاریخ**. کابل: انتشارات جهان اسلام.
**۵.** غضنفر، اسدالله. (۱۳۹۳). **جادوګر هنر**. ننګرهار: مومند خپرندویه ټولنه.
**۶.** ګنجی، حمزه.(۱۳۸۴). **روان شناسي عمومي**. تهران: نشرسوالان.
**۷.** وندر زندن، جیمز دبلیو. (۱۳۷۸). **روان شناسي رشد**. د حمزه ګنجي ژباړه. تهران: مؤسسه انتشارات بعثت.
**۸.** هېواد مل، زلمی.(۱۹۹۹). **د پښتو ادبیاتو تاریخ**. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.